مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۱/۱۳

# غزل

سترګې نه دي سرې لمبې دي، که دې خیال وي
په تپې زړه مې حملې دي، که دې خیال وي

واک اختیار رانه پردی شو وطنداره!
پارېدلې مې جذبې دي، که دې خیال وي

لویه دښته د فراق زه ور پکې یم
د غمونو سلسلې دي، که دې خیال وي

توره شپه توره کوټه راته زندان ده
تورې زلفې زولنې دي، که دې خیال وي

زړه خطا په یو نظر کړم داسې ژاړم
چې د اوښکو مې ویالې دي، که دې خیال وي

د دردونو پسې نښلم ټول خبر دي
دا په هر لور اوازې دي، که دې خیال وي

پسرلیه! عشق ځپلی یمه داسې
غوښې شوې مې جورکې دي، که دې خیال وي

مصطفی پسرلی
11/12/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ